**بسم الله الرحمن الرحیم**

## سپیڅلي میاشتی د بشریت لپاره د سولی پیغام لري

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ»ژباړه:« حقیقت دا دی چې د میاشتو شمېر، له هماغه ورځې څخه چې الله اسمانونه او ځمکه پېدا کړېده، د الله په لیکنه کښې همدا دولس دي؛ او له هغو څخه څلور میاشتې حرامې دي. همدا سم صحیح قانون دی.»**، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

دا د الله تعالی فضل او کرم دی په انسانانو باندی چې هغوي ته داسی وختونه برابر کړي چې د خیر او برکت نه ډک دي چې په هغه کې بنیګڼي زیاتیږي او بدی لمنځه ځي لکه چې الله تعالي فرمایی:« وَذَكِّرْهُمْ بِأَيَّامِ اللَّهِ» ژباړه:« و هغو ته د الهي تاریخ د درس اخیستني وړ پېښو په اورولو سره نصیحت وکړه».

او ددغه وختونو له جملي څخه د محرم او یا هم سپیڅلي میاشتی دی او ددی میاشتو په هکله الله تعالي پخپل مبارک کلام کې په اجمالي ډول اشاره کړي لکه چې فرمایي:« إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنْفُسَكُمْ» ژباړه:« حقیقت دا دی چې د میاشتو شمېر، له هماغه ورځې څخه چې الله اسمانونه او ځمکه پېدا کړېده، د الله په لیکنه کښې همدا دولس دي؛ او له هغو څخه څلور میاشتې حرامې دي. همدا سم صحیح قانون دی. نو په دې څلورو میاشتو کښې پر خپل ځان ظلم مه کوئ.» او ددی ایت تفصیل سره بیان نبي کریم صلی الله لیه وسلم په حجة الوداع کې کړي دي لکه چې فرمایي: (په حقیقت کې، وخت بدل شو لکه څنګه چې هغه ورځ وه چې خدای اسمانونه او ځمکه پیدا کړي، کال دولس میاشتي لري چې لدي جملي څخه څلور په ترتیب سره سپیڅلي یا محرم دي چې هغه ذوالقعده، ذوالحجه او د محرم میاشت دی او د رجب میاشت هغه ده چې د جمادي او د شعبان میاشت په منځ کې راځي).

او دغه سپیڅلي میاشتي د الله تعالي په نزد باندي ډیر لوړ مقام او منزلت لري نود همدی عظمت او حرمت او احترام له کبله د محرمو میاشتو په نوم یاد شوي دي، نو د همدي لپاره شریعت پدي میاشتو کې قتل و قتال او ویجاړی حرام ګرځولي دي او په ډیرو سختو ټکو سره یی غندنه کړي ده لکه چې الله تعالی فرمایی:« يَسْأَلُونَكَ عَنِ الشَّهْرِ الْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ» ژباړه:« خلك ستا څخه پوښتنه کوي چې «په حرامه میاشت کې جنګېدل څنګه دي؟» - ورته ووایه: پدې کې جنګ کول ډېر بد دي؛» ، دغه سپیڅلي میاشتي د انسانیت او د سولي د پیام لیږدونکي د ټول بشریت لپاره دي ځکه چې اسلام ټول د سولي دین دي او سلام د الله

تعالي د نومونو د جملې څخه دي لکه چې الله تعالي فرمايي:« هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ» ژباړه:« الله هغه ذات دی چې له هغه پرته کوم هيڅ معبود بر حق نشته. هغه باچا، ډېر پاک، له ټولو عيبونو څخه سالم دی»، او زمونږ ګران پيغمبر صلي الله عليه وسلم د سولي او د رحمت نبي دي لکه چې الله تعالي فرمايي:« وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ» ژباړه:« ې محمده (ص)!] موږ چې ته لېږلی يې، دا په اصل کښي د نړيوالو په باب زموږ رحمت دی. (موږ د ټولو مخلوقاتو لپاره ته رحمت لېږلی يې.)» او زمونږ د نبي صلی الله عليه وسلم د دعاؤ د جملي څخه چې د هر لمانځه نه ورسته به يی کوله دا وه: **(اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْكَ السَّلاَمُ تَبَارَكْتَ يا ذَا الْجَلاَلِ وَالإِكْرَامِ).**

اسلام هيڅکله ويني تويوني او د قتل لپاره هڅونه نکوي، بلکي د هغه څخه منع کوي په هر طريقه چې وي او کوښښ کوي چې سوله رامنځته شي په هره طريقه او وسيله چې وي او په سولي باندي ټينګار کوي لکه چې الله تعالی فرمايي:« وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتوَكَّلْ عَلَى اللهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ العَلِيمُ» ژباړه:« او [اې پيغمبره (ص)!] که دښمن د روغي جوړي خوا ته ميلان ولري، نو ته هم د هغې لپاره تيار اوسه او پر الله توکُل وکړه. په يقيني ډول هماغه د هر څه اورېدونکی او په هر څه پوهېدونکی دی.» او نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايی: (له دښمن سره د مقابلې هيله مه کوه او له خدايه د خير غوښتنه کوه، نو که ورسره مخامخ شي نو صبر وکړه)، او د اسلام رسالت د سولي او ميني پيغام دي او هدف او موخه يی د بشريت ارامي او سوکالي ده لکه چې الله تعالی فرمايي:« يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أتقاكم إن الله عليم خبير» ژباړه:« اې خلکو! موږ تاسي له يوه نارينه او يوې ښځي څخه پيدا کړئ او بيا مو تاسي قومونه او قبيلې وګرځولئ، تر څو چې تاسي يو او بل سره وپيژنئ. په حقيقت کښي د الله په وړاندي ستاسي څخه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوك دی چې په تاسي کښي تر ټولو زيات پرهېزګار وي. په باوري ډول الله په هر څه پوهېدونکی او باخبره دی.».

*****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځي پوري په نيکی سره د هغه تابعداري کوي.

د سپېڅلو مياشتو درناوی پدي کيږي چې له هر ډول ترهګرئ او افراطيت څخه ډډه وکړو، او د بې ګناه خلکو ويني تويول او د هغوی ترور کولو څخه ډډه وشي، او لکه څنګه چې الله تعالي له مونږ نه غواړي چې پدغه سپيڅلو مياشتو کې ډېر عبادت ترسره کړو او دغه مياشتي په عبادت او د نفس په پاکولو کې تير کړو لکه چې الله تعالی فرمايي:« وَافْعَلُوا الخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ» ژباړه:« او ښې چاري سرته ورسوئ. ښايي چې بری درپه برخه شي.»، لکه څنګه چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم هم پدي هکله فرمايی: (د مبارکو مياشتو څخه روژه ونيسه

او پرېږده، د مبارکو میاشتو څخه روژه ونیسه او پرېږده، د مبارکو میاشتو څخه روژه ونیسه او پرېږده).

او د دغو سپیڅلو میاشتو د جملي څخه یو هم د رجب میاشت ده، او رجب د ترجیب څخه اخیستل شوي چې د تعظیم معنی ورکوي او عربانو دا میاشت د اصم په نوم یاده کړي ده ځکه چې دوي پدي میاشت کې د جنګ او جګړي غږ نه اوري، او دا میاشت د نبي کریم صلی الله علیه وسلم اسراء او د معراج شپې لیږدونکي میاشت ده او دا میاشت د خیروا د ښیګنو او دبرکتونو د میاشتو کلي ده لکه څرنګه چې ابوبکر الوراق البلخي رحمه الله ویلي دي: رجب د کښت کولو میاشت ده، شعبان د کښت لپاره د اوبو ورکولو میاشت ده، روژه د حاصلاتو د راټولولو میاشت ده.

څومره ښایسته دي چې دغه سپېڅلې میاشتې د الله (جل جلاله) په اطاعت کې د ځمکې په جوړولو، د کار په بشپړولو، او د نیکو کارونو په زیاتوالي ، خواږه ورکول، د همدردئ او شفقت روحیه خپرولو سره تیره کړو، لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:الله تر ټولو هغه څوک خوښوي چې خلکو ته یی ګټه رسیږي او د الله تعالي ته تر ټولو خوښ او غوره اعمال دادی چې یو مسلمان ته خوښي ورکړي، او د هغه څخه غم او ستونزي لری کول دي، او د هغه د پور څخه تیریدل دي اود هغه څخه د لوږي لري کول، اود خپل د ورور حاجت پوره کول تر هغه غوره دي چې ددغه جومات اعتکاف وشي او ددغه جومات مقصد د مدیني جومات اعتکاف د یو میاشت لپاره دي، او څوک چې خپل غصه کابو کړي ، الله به د قیامت په ورځ د هغه زړه له قناعت څخه ډک کړي، او څوک چې له خپل محتاج ورور سره تر هغه وخته ولاړ شي، چې د هغه اړتیاوي یې پوره کړي، نو الله تعالي به د هغه قدمونو د قیامت په ورځ ثابتي کړي په هغه ورځ چې قدمونه رپیږي.

**یا الله ته مونږ ته د رجب او شعبان میاشت مبارکه کړي او مونږ د روژي مبارکي میاشتی ته ورسوي.**